افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com   www.afgazad.com

تاریخی	Historical

محمد هارون خپل شعشعی
۱۸ جولای ۲۰۱۳

د علي محمد مخلص د ژوند اجتماعي او فرهنگي حالات:

دوهمه برخه

باید هېر نه کو چي په هندوستان کي تر مغولي پاچهانو مخکي هم و ادب، تاریخ، اسلامي علومو، هونري او فرهنگي ارزښتو ته په ډېره درنه سترگه کېدل. له غوري پاچهانو څخه را نیولي بیا تر لودي او سوري پاچهانو پوري ټول شاهي دربارونه د ادب ، پوهي او اسلامي ثقافت د ودي او پرمختگ لوی مرکزونه وه.[۳۴] د بېلابېلو هیوادو او سیمو د پوهي، تفکر، هونر او ذوق خاوندانو و خپلو علمي، فکري، ادبي او هونري متاعو ته د ارزښتناکو بیو د تر لاسه کولو دپاره و هندي دربارو ته مخه نیوله.[۳۵] د مثال توگه د خواص خان زوی، میابهوه، خپل « معدن شفای سکندري یا طب سکندري » د ادبپالونکي پښتون پاچا - سلطان سکندر لودي(۱۴۸۹ - ۱۵۱۷ع) په تشویق او ترغیب له سنسکریت ژبي څخه و ژباړئ، چي په خپله هم شاعر ؤ؛ او په شعر کي« گلرخي » تخلص کاوه. محمد بن شېخ هم د سکندر لودي په تشویق د « تحفهٔ سعادت » په نامه پارسي فرهنگ ولیکئ، چي و سلطان سکندر لودي تې د اهدا کولو له جهته « فرهنگ سکندري » هم بولي.[۳۶] د سلطان سکندر لودي د علمي څوَب او ادبپالني له برکته ؤ، چي ایرانی عالِم، رکن الدین شېرازي، د هغه وخت لوی متفکرین (د ملتان شېخ عبدالله تولنبي او شېخ عزیزالله) او د « سیرالعارفین » او « مثنوی مهر و ماه » لیکوال (په شېخ جمال الدین کانبو مشهور، شېخ جمال الدین دهلوي) یې دربار ته ورغلل. شېخ عبدالقدوس گنگوهـ هم د دې دوري لوی عرفاني او روحاني شخصیت ؤ، چي په هندوستان کي د گورگاني دولت د تاداو ایښوونکي- ظهیرالدین محمد بابر(۱۴۸۳ - ۱۵۳۰ع) په مقابل کي د سلطان ابراهیم لودي ملاتړ وکئ.[۳۷]

شک نسته چي د مغولي پاچهانو په زمانو کي له تورکیي، عربو، مرکزي اسیا، ایران، پخواني افغانستان او نورو سیمو څخه د علمي، فکري، ادبي او هونري استعدادو تښته تر پخوا هم تېزه او زیاته سوه؛ ځکه د هندوستان د مغولي امپراتورانو او دکن مېشتو پاچهانو دربارونه د سیمي د شاوخوا هیوادو د واکمنو رژیمو له سیاسي- فکري ځورونې، اجتماعي، فرهنگي او اقتصادي ناخوالو څخه د ژغورني یوازني خوندي او سوکاله مرکزونه گڼل کېدل. د مختلفو سیمو او هیوادو د پوهي او کمال خاوندانو د هندوستان د واکمنو دربارو په نسبتاً ازاده او سوکاله فضا کي نه یوازي علمي، عرفاني، ادبي او فرهنگي اثار تخلیقول، بلکي د هغو د مادي او مانوي ملاتړ تر سیوري لاندي یې د شېرازئ او سوکالی ژوند تېراوه. البته، هندوستان و تاج و تخت ته د اورنگزېب عالمگیر تر رسېدو وروسته نه یوازي په مغولي دربار کي پخواني علمي- فرهنگي کوښښونه له لویو خنډونو او ځنډونو سره مخامخ سول، بلکي د هندي ټولني پر سیاسي، اجتماعي، کلتوري او مدني ژوند هم د زیندی کولو او زورزیاتي تور پلو و غوړېدئ. چل ول

او توطیه، د عقایدو پلټنه او له مخالفینو سره ظالمانه چلن د اورنګزېب د دربار په رسمي سیاست واو ښتل. هندی لیکوال او څېړونکی، ډاکټر ج. ن. چودهري، په یوه څېړنه کي د« اورنګزېب » پر فکري جوړښت د هغو اجتماعي- فرهنګي بدلونو اغېزه له پامه نه غورځیي، چي د هغه مهال په هندي ټولنه کي د شېخ احمد سرهندي المجدد الف ثاني او د هغه د افراطي پیروانو له خوا را منځ ته سول؛ او هدف یې د شریعت له اصولو سره د مسلمانانو د دود و دستور برابرول ؤ. دی زیاتیي: د شېخ احمد سرهندي زوی، خواجه محمد معصوم، د شاه جهان په وخت کي له شازاده اورنګزېب سره نیژدې تعلقات لرل؛ اورنګزېب او درباریانو یې ډېر درناوی کاوه؛ د اسلامي شریعت په اړه یې نظریې او مشورې ځني غوښتې. خواجه محمد معصوم او د هغه زوی، محمد سیف الدین، د تر پاچا کېدو وروسته هم له اورنګزېب سره ټینګ اړېکی و ساته. دغو ارتباطاتو د یوه سخت اسلامي نظام په خپرولو کي د اورنګزېب پر شخصي عقایدو او دولتي سیاستو ژور اثر ښندلئ ؤ.[۳۸]

د مکار او خونرېز اورنګزېب په سیاسي او فرهنګي دستګاه کي د متعصبو مذهبیونو او محتسبینو د پراخ نفوذ له کبله د هندي ټولني په فکري او عرفاني حلقو کي پخوانۍ ازادی له یوې مخي تر خاورو لاندي سوې. لوی استاد- اروابناد علامه حبیبي(**۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰ع - ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴ع) په یوه څېړنه کي** دې مسألي ته په اشارې سره لیکلي دي، چي د مغولي دربار واکمنانو قاضي عبدالقوي سرمد او د پارسي ژبي شاعر، میرزا مظهرجان جانان، د هغو د شخصي عقایدو او سپینو خبرو په خاطر په دار و ځړول؛ او په دې توګه یې په دولسمه پېړۍ کي د حسین منصور حلاج د بېرحمانه وژلو هنګامه له سره تکرار کړه.[۳۹] ایرانی لیکوال او څېړونکی، ډاکټر ذبیح الله صفا، هم په خپل مشهور اثر « تاریخ ادبیات در ایران » کي دې ورته بیان لري، چي یادونه یې دلته بې ګټې نه ده. دی کاږي چي د دیني عالِم (شېخ احمد سرهندي) او نورو متعصبانو له خوا د پارسي ژبي پر صوفي شاعر، ناصر علي سِرهندي (په ۱۱۰۸هـ ق کي مړ)، د هغه په ټاټوبي(سِرهند) کي مخامخ تېري وسو. له نېکه مرغه میرمحمد زمان راسخ سرهندي یې ملاتړ وکړ؛ د خپلو وفادارو وسله والو په کومک یې د جنګ له میدانه وایستئ؛ او په تراټ یې تر شاه جهان آباده و رسوئ[۴۰]...

اورنګزېب د یوه سرسخت او متعصب مسلمان په توګه، غوښتل هندوستان غوندي ګڼ توکمه او ګڼ مذهبه ټولنه د نېزې او برچې په زور له دارالحرب څخه و دارالاسلام ته واړیي؛ او په پای کي پر ټولو اوسېدونکو د یوه سخت او جدي اسلامي نظام اصول او احکام نافذ کي. په دې خاطر یې د نوروز لمانځنه بنده او د هغه زردشتي تقویم مخه و نیوله، چي پلار و نیکه یې کاراوه؛ د بنګو له کرهني څخه یې هم خلګ منعه کړل؛ په لویو ښارو کي د محتسبینو ښپلاښپلي ډلي و ټاکلي، چي د شرابو چښلو، خومار(قمار)، زنا او داسي نورو اسلامي ضد کارو مخنیوی وکي.[۴۱] دې مذهبي ډلو دغه راز واک لاره، چي د کوپر(کفر) ویلو، بدعتي نظریو، د لمانځه او روژې قضا کولو یا نورو دیني وجایبو د سرغړوني په خاطر و خلګو ته ډول ډول جزاوي ورکي. اورنګزېب د دې احکامو د تطبیق په لړ کي د طریقت سالکان او شیعه مسلمانان هم بې ازاره پرې نښوول؛ سندرغاړي، سازیان او نڅېدونکي یې ګرده له درباره و شړل، خو شراب ځښل یې تر پایه بند نکړای سول. « د مغولو حریم » لیکوال، پروفیسر ک. ایس. لال، په دې اړه داسي لیکي: « په مغولي دربار کي له مشر وزیر څخه تر کوچني منصبدار پوري ټولو نجباوو شراب چښل. اورنګزېب خپله هم په دې حقیقت ښه خبر ؤ. هغه غوښتل چي لږ تر لږه خپل مشر وزیر، جعفر خان، له شراب چښلو څخه منعه کي، خو دا ارمان یې هیڅکله تر سره نسو.[۴۲]

د اورنګزېب سختو اسلامي قوانینو هندوان، سیکان او د نورو دینو پیروان هم له راز راز مشکلاتو سره مخامخ کړل. په ۱۶۵۹ع کال یې په بنارس کي د هندوانو د نوو معبدو د ودانولو او رغولو مخه ونیوله؛ خو پخواني معبدونه یې وران نه کړل. په ۱۶۶۴ع کال یې حتا د پخوانو معبدو د سمولو او ترمیم چاري هم بندي کړې. په

۱۶۶۹ع کال يي د غيرمسلمانانو د زده کړې او غونډو مرکزونه هم اوجاړ کړل. دا لا څه چي په مطيع او وفادار جيپور کي هم شپږ شپېته (۶۶) معبدونه په کنډوالو واړول؛ په درسته مغولي امپراتورۍ کي پر بې شماره معبدو سربېره، د بنارس « ويشوناتا »، د ماتهورا « کيشوديو » او د پاټن « سومنات » معبدونه هم وران کړل، چي په هندوانو کي ډېر لوی نوم او نښان لاره. په دې ګردو ورانکاريو يي هم غاړه و نه ايسته. تر ۱۶۷۹ع کال وروسته يي ټول هندوان و جزيې ور کولو ته هم اړ کړل. د اورنګزېب ظالمانه ماليو د غيرمسلمانانو ملاوې ور ماتي کړې. ځينو يي د همدې ملا ماتوونکي بار د ايسته کولو دپاره په پای کي د اسلام دين و مانه. عجبه خو لا دا چي، اورنګزېب د يوه فرمان په نافذولو سره بې راجپوتو، نور ټول هندوان په جوپانو کي له کښېنستو او پر ښو اسانو باندي له سپرېدو څخه هم منعه کړل.[۴۳]

د اورنګزېب پاچهي که د مځکنی پراختيا او لويوالي له پلوه د مغولي امپراتورۍ تر ټولو پرتمينه او شانداره دوره وه، خو د سياسي انحطاط او زوال ورځي يي هم له همدې وخته شرو سوې. د هغه سخت چلن او تبعيضي سياست د مغولي امپراتورۍ په ډېرو اتباعو(هندوانو او سيکانو) کي سخت اعتراضونه او غبرګونونه را وپارول. سيکانو خو د دې تبعيضي سياستو په مقابل کي و وسلو ته هم لاس واچاوه.[۴۴]

د اورنګزېب سياسي، اجتماعي، فکري او فرهنګي اختناق د هندوستان په پاړسي ادبياتو کي د يوه بېلي لاري يا سبک له را پيدا کېدو سره مرسته وکړه، چي د دې ژبې په تاريخ کي د « هندي سبک » په نامه يادېږي. سياسي مخالفانو، عرفاني شاعرانو او متفکرو ليکوالو د ټولني واکمن سانسور او تفتيش ته په پام سره خپلي سياسي، عرفاني او فلسفي نظريې د ابهام او موشګافيو په پردو کي و نغښتلې. د جسمي او فکري تماميت ساتني په مخسد دې افراطي سبک په پای کي د پاړسي ادبياتو و پخوانی سادګی او روانی ته لوی زيان ورساوه؛ د شعر او هونر پخوانی خوږوالی تر مبهمو بيانونو او غامضو ماناوو جار سو. ميرزا عبدالقادر بيدل عظيم آبادي پټنوي، ناصرعلي سرهندي، نورالدين ظهوري او ځيني نور له هغو وتلو او منلو شاعرانو څخه دي، چي هندي سبک يي په هند کي و خپل کمال او معراج ته ورساوه.

د اورنګزېب دربار د شعر، موسيقی، هونر، ادب او عرفان پر ځای و فقهي او مذهبي چارو ته پام واړاوه. د پاچهۍ تر لومړييو يوويشتو کلونو پوري يي حتا پر تاريخ ليکني هم بنديز لګولئ ؤ. سره له دې هم په دې دوره کي مهم کتابونه و ليکل سول، چي د ځينو نومونه يي دا دي:

- ميرزا محمد کاظم د اورنګزېب د پاچهۍ د لومړييو لسو کالو رسمي تاريخ و ليکئ، چي « عالمګيرنامه » يي بولي. د اورنګزېب د پاچهۍ د ټولي دورې بل رسمي او دولتي تاريخ د محمد ساقي مستعد خان له خوا د « مآثر عالمګيري » په نامه د اورنګزېب د زوی، بهادرشاه اول، په زمانه کي وليکل سو.

- عاقل خان راضي د « ظفرنامهٔ عالمګيري يا واقعات عالمګيري » په نامه خپل تاريخ وکښئ.

- « اورنګزېب نامه » د هغه منظوم اثر نوم دئ، چي حقيري نومي مغولي عسکر ليکلي او د داراشکوه تر اعدام پوري يي د اورنګزېب د اقتدار غوښتني ټول جنګونه پکښي راوړي دي.

- محمدهاشم خافي خان د « منتخب اللباب » په نامه تاريخي اثر و ليکئ، چي د اورنګزېب د پاچهۍ په ګډون يي د تيموري کورنی حالات بيان کړي دي.

- د اورنګزېب د دربار هندو مورخ، بهيمسن، د « نسخهٔ دلکشا » په نامه تاريخي اثر تاليف کئ، چي په دکن کي د مغولي پاچهانو د يرغلګرو جنګو او اشغالګرو کوښښو عيني داستان دئ.

- د دربار بل هندو ملازم، ايشور داس، د « فتوحات عالمګيري » په نامه اثر وکښئ، چي د اورنګزېب د پاچهۍ پر مهال د راجستان حالات څېړي.

- شهاب الدين احمد د بِهار او آسام په باب « فتحيه ابريه » کتاب تألیف کئ.

- میر محمد معصوم د بنګال په اړه« تاريخ شاه شجاع »او د ګولکونډې د کلابندی په باره کي د « واقعهٔ نعمت علي خان علي » کتاب تصنيف کئ(۱۶۸۷ع کال).

- « خلاصة التواريخ » د سجان رای پټیالوي له خوا وليکل سو، چي له سبتګين څخه د اورنګزېب تر وخته حالات بيانيي.[۴۵]

- حميدالدين د اورنګزېب د ژوند، شخصيت او احکامو په باره کي « احکام عالمګيري » کتاب انشأ کئ.

- د علي محمد خان له خوا د ګجرات د حالاتو په باب، په درو ټوکو کي « مرآت ارمادي » وليکل سو.

- « تواريخ بنګاله » د سليم الله خوا تألیف سو.

- « آداب عالمګيري »، « احکام عالمګيري » د عنايت الله خان له خوا وليکل سول.

- « کليمة طيبه »،« کليمة اورنګزېب »،« ظاهر انشاء »،« بهارسکون »،« هفت انجمن » او « واقعات حميدالدين خان » د کتابو په بڼه غونډ سوي تاريخي خطونه وه، چي په دې دوره کي تدوين او تألیف سول.

- د اسلامي فقهي مشهور اثر « فتاوای عالمګيري » هم د اورنګزېب په پاچهي کي وليکل سو.[۴۶]

- نواب صمصام الدوله شهنواز خان اورنګ آبادي او د هغه د زوی عبدالحي خان د مغولي دربارو د بېلابېلو تاريخي اثارو پر اساس خپل ارزښتناک اثر « مآثرالامرا » تألیف کئ، چي وروسته د آزاد بلګرامي له خوا بشپړ سو. دا مهم تاريخي اثر په (۱۵۵۶ - ۱۷۸۰ع) کلونو کي د مغولي امپراتورانو د بېلابېلو واکمنانو د ژوند اړخونه او کارنامي بيانيي. په دې اثر کي د پير روښان د لمسي، الله داد رشيد خان، په ګډون د ځينو پښتنو واکمنانو د ژوند او کارنامو په باب هم ارزښتناک مالومات راغلي دي.

ماخذونه او يادښتونه

[34] Dr Ishaque, Arabic, <u>The Delhi Sultanate: The History and Culture of the Indian People</u>, 6th Vol., Prepared under the direction of Dr K.M. Munshi, ed: Dr R.C. Majumdar(Bombay: Bharatiya Vidya Bhavan,1974) 530-31.

[35] Dr Ishaque, Persian, <u>The Delhi Sultanate: The History and Culture of the Indian People</u> 533-41.

[36] Dr Ishaque, Persian, <u>The Delhi Sultanate: The History and Culture of the Indian People</u> 538.

[37] Dr Ishaque, Persian, <u>The Delhi Sultanate: The History and Culture of the Indian People</u> 539.

[38] Dr Chaudhuri, Aurangzib, <u>The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People</u> 233.

[۳۹] حبيبی، « خصايص و ارزشهای شعر فارسی غالب دهلوی، » <u>آفريده های مهجور علامه حبيبی</u> با مقدمهٔ محمد هارون خپل شعشعی (کابل: اکاديمی علوم افغانستان، ۱۳۶۷) ۲۰۵.

[۴۰] دکتر صفا ۱۳۴۱.

[41] Dr Chaudhuri, Aurangzib, <u>The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People</u> 234.

[42] Prof K. S. Lal, The Mughal Harem, 1st ed (New Delhi: Aditya Prakashan, 1988)168, 174.

[43] Dr Chaudhuri, Aurangzib, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People 235.

[44] Dr Chaudhuri, Aurangzib, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People 237.

[۴۵] کامل مومند ی د.

[46] Sri Srivastva, Source, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People 10 - 11.

پاته په دریمه یا وروستۍ برخه کي